**AFGHAN GERMAN ONLINE**
http://www.afghan-german.com
http://www.afghan-german.de

افغان جرمن آنلاین

مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ

۲۰۲۵/۱۲/۱۰

# د یهودو عادلانه جګړې

## (یوسل او دوولسمه برخه)

**له اسراییلو د امریکایانو ملاتړ او لویه بیه (۷)**

**د سپټمبر د ۱۱مې بریدونه او د امریکا غبرګون**

د سپټمبر له ۱۱مې بریدونو څخه وروسته امریکایانو وویل چې دا بریدونه د القاعدې ډلې (چې مشر یې اسامه بن لادن دی) ترسره کړي او بن لادن په افغانستان کې اوسیږي چې په افغانستان کې د بن لادن د اوسیدلو له امله، د طالبانو حکومت د ترهګرو ملاتړکوونکی وبلل شو او د بشر حقونو د سرغړونو په تور وغندل شو. امریکایانو له طالبانو وغوښتل چې بن لادن وروسپارې. هغه وو چې «د ۲۰۰۱ز. کال د سپټمبر په ۲۰مه نېټه، د امریکا د کانګرس په ګډه غونډه کې ولسمشر(جورج ډبلیو بوش) د کانګرس په سلا پنځه شرطونه طالبانو ته وټاکل:[1]

**د القاعدې ډلې ټول مشران دې امریکا ته وسپارل شي.**
**ټول بهرني کسان چې د طالبانو په بند کې دي خوشې او امریکا ته دې وسپارل شي.**
**د ټولو ترهګرو پنډغالي دې وتړل شي.**
**ټول ترهګر او د هغوی ملاتړي دې معرفي او د [امریکا] چارواکو ته دې وسپارل شي.**
**د امریکا متحده ایالاتو ته دې د ترهګرو د پنډغالو د لټون بشپړه اجازه ورکړل شي.**
**جورج بوش زیاته کړه:«هغوی باید ترهګر موږ ته وسپاري، که نه په برخه‌لیک کې به ورسره شریک شي.»**[2]

د طالبانو حکومت وویل چې بن لادن زموږ په هېواد کې د یو مېلمه په توګه اوسیږي، ویې ویل چې د طالبانو او پښتونولۍ د اصولو پربنسټ د مېلمه‌پالنې او د پناه‌اخیستنې حق لري.
طالبانو له امریکا څخه د پیښې په تړاو د اسنادو غوښتنه وکړه چې د ربښتینو اسنادو پر بنسټ به بن لادن په یوه اسلامي محکمه کې محاکمه کړای شي.
طالبانو امریکایانو ته ځو ځلې د اسامه بن لادن د محاکمې مشروط وړاندیزونه وکړ. د ۲۰۰۱ز. کال د اکتوبر په ۷مه نېټه، طالبانو د افغانستان په خاوره کې د بن لادن د یوې اسلامي محاکمې وړاندیز وکړ خو دغه وړاندیز په هماغه ورځ د امریکایي چارواکو له خوا رد شو او امریکا او انګلستان د طالبانو او القاعدې پر مرکزونو بریدونه پیل کړل.[3]
د اکتوبر په ۱۴مه نېټه، طالبانو امریکا ته یو بل وړاندیز هم وکړ چې بن لادن دې په یو دریېم هېواد کې محاکمه او ورسپارل شي. په دې شرط چې امریکایان، د بن لادن په تړاؤ شواهد وړاندې کړي. جورج بوش دغه غوښتنه هم ونه منله، ویې ویل:**«د ده د ګناه او بې‌ګناهۍ په اړه خبرو ته اړتیا نه شته، موږ ټول پوهیږو چې هغه ګناه‌کار دی».**[4]

امریکایانو نه غوښتل د پیښې په اړه طالبانو ته اسناد ورکړي ځکه چې دوی لا له پخوا پر افغانستان د برید هوډ درلود. امریکایانو د سپټمبر له بریدونو وړاندې په داسې یو پلان کار کاوه چې څه ډول کولی شي په افغانستان کې د القاعدې پر

---

[1]:Neville, Leigh, *Special Forces in the War on Terror (General Military)*, Osprey Publishing, 2015, p.48[د ویکیپیډیا په استناد]
[2]:They will hand over the terrorists or they will share in their fate
[3]:https://web.archive.org/web/20100916091256/http:/archives.cnn.com/2001/US/10/07/gen.america.under.attack/
[4] :https://www.theguardian.com/world/2001/oct/14/afghanistan.terrorism5


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

مرکزونو یرغل وکړي.[5] د امریکا ولسمشر جورج بوش (چې یو بدماشتیپه سړی ؤ) پر افغانستان د یرغل د چمتووالي په حال کې ؤ چې په دې بهیر کې امریکا شاوخوا د ۴۸ـ۵۰ هېوادونو څخه پر افغانستان د یرغل لپاره یو نړیوال ایتلاف جوړ کړ چې په دې ایتلاف کې د پاکستان برخه اخیستل حیرانوونکي او د یادولو ده، پاکستان په دغه ایتلاف کې، (لکه د نورو هېوادونو په څېر) په خپله خوښه ګډون ونه کړ، **د پاکستان واکمن جنرال پرویز مشرف وچ په زور اړ کړای شو چې څه خپل (ډول) چې امریکایان ورته ووهي باید پاکستان ورته نڅېږي.**[6]

که څه هم په هغو ورځو کې اسامه بن لادن په افغانستان کې اوسیده خو امریکایان ډېر له پخوا پوهېدل چې د پاکستان استخبارات (ای‌اېس‌ای) له القاعدې څخه ملاتړ کوي، له بلې خوا پاکستان د طالبانو حکومت په رسمیت هم پېژندلی ؤ او د طالبانو کلک ملاتړی ؤ، په دې بنسټ امریکایانو فکر کاوه چې پاکستان به له افغان طالبانو او القاعدې څخه دفاع وکړي، هغه وو چې د امریکا لوړپوړو چارواکو، په توله نړۍ کې یوازې د پاکستان واکمن جنرال پرویز مشرف ته ډېرې سختې ډاروونکي ګوتڅنډنې وکړې چې په اړه یې د جنرال مشرف له خولې اورو هغه لیکي:«د امریکا د بهرنیو چارو وزیر (کولن پاول) ټیلیفون کړی... پاول ډېر ساده او روښانه وویل:**«له موږ سره یاست، که زموږ پر وړاندې یاست؟»**

مشرف زیاتوي:«دا یو تریخ التیماتوم او تهدید ؤ... هغه ته مې وویل:«پاکستان د ترهګرۍ له لاسه ډېر ځوریدلی دی، په دې بنسټ، موږ به د ترهګرۍ پر وړاندې د امریکا په خوا کې ودریږو او په ګډه به د ترهګرۍ سره وجنګیږو.»
مشرف وایي:«په دغه ټیلیفوني اړیکه کې نورې هیڅ ډول خبرې ونه شوې.»[7]
سره له دې چې جنرال مشرف د پاول په یوه ټیلیفون امریکا ته تسلیم شو خو په سبا یې د امریکا د بهرنیو چارو مرستیال (ریچارډ آرمیتاژ) اخطارونو داسې وېرولی ؤ چې له امله یې ټکان خوړلی او وجود یې ګړبې (لړزې) اخیستې ؤ، مشرف لیکي:«... آرمیتاژ د کولن پاول د خبرو په دوام په ناډیپلوماتیکو څرګندونو سره وویل:**«پاکستان باید پرېکړه وکړي چې له امریکا سره دی، که له ترهګرو سره خو که د ترهګرو په خوا کې ودریده نو د داسې بمباریو په تمه اوسئ چې د ډبرو زماني ته به ستانه شئ!»**
جنرال صاحب، د دې پر ځای چې خپله وېره پټه وساتي په ډاګه وایي چې «دغه بې شرمه ګواښ **ټکان ورکوونکی ؤ** خو متحده ایالاتو خپل تصمیم نیولی ؤ چې جدي ځواب ورکړي.»[8]
خو بیا وروسته پاکستان له امریکا څخه د ډالرو ترلاسه کولو په بدل کې ډېر ښه خدمتونه هم وکړل، په سلګونو د القاعدې غړي او د طالبانو لوړپوړي چارواکي چې په پاکستان کې د ای‌اېس‌ای تر پوښښ لاندې پټ ساتل شوي وو، پر امریکایانو وپلورل. تر دې چې د القاعدې مشر اسامه بن لادن یې هم پر امریکایانو وپلوره او د ۲۰۱۱ز. کال د مې په ۲یمه نېټه، شپې مهال د پنجاب په ایبټ آباد ښار کې (چې د ای‌اېس‌ای تر څار لاندې اوسیدۀ) د امریکایي ځواکونو لخوا چې په دوو ځانګړو چورلکو او دوو احتیاطي چورلکو کې ورغلي وو ووژل شو.[9]

د ۲۰۰۱ز. کال د اکتوبر په ۷مه نېټه، امریکایانو او پخوانیو مجاهدینو، په ځانګړي توګه د شمالي ټلوالي په مرسته پر افغانستان رسمي یرغل پیل کړ. د طالبانو واکمني یې ړنګه او شمالي ټلوالي ته یې د کال او شمالي ولایتونو واک ورکړ. له بلې خوا طالبانو د امریکایانو او متحدینو پر وړاندې له نویو جګړمېیزو تکتیکونو سره جګړې پیل کړې چې د طالبانو د بریدونو له امله په هېواد کې امنیتي وضعیت ورځ تربلې د خرابۍ پر لور روان ؤ، هغه وو چې په ۲۰۰۹ز. کال کې

---

5: *متن جلسه استماع از ۸ آوریل ۲۰۰۴* . *کمیسیون ۱۱ سپتامبر* .۴ مارچ ۲۰۰۷.
6: د ډېرو مالوماتو لپاره په افغان جرمن آنلاین کې ولولئ:(د جمهوریت د سقوط عوامل: د پاکستان رول)
7: پرویز مشرف: در خط آتش. ژباړن: سید هارون یونسی. ۳۱۲مخ.
8: هماغه کتاب: ۳۱۳مخ.
9: د ډېرو مالوماتو لپاره ولولې، په افغان جرمن آنلاین پورتال کې: د جمهوریت د سقوط عوامل: د پاکستان رول.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

د امریکایي سرتېرو شمېر لا پسې زیات شو او تر ۲۰۱۱ز. کال پورې د آیساف او متحده ایالاتو تر قوماندې لاندې **د بهرنیو سرتېرو شمېر (۱۴۰٬۰۰۰) تنو ته ورسېد.**[10]

دغو جګړو په افغانستان کې نږدې شل کاله دوام وکړ.[11] له افغانستان څخه د امریکا ځواکونه بشپړ وتل، د ۲۰۲۱ز. کال د اګست میاشتې تر ۳۰مې نېټې پورې پای ته ورسیدل او په افغانستان کې د امریکا پوځي مداخله پای ته ورسیده.دا د امریکا په تاریخ کې تر ټولو اوږده جګړه وه چې د ویتنام جګړې څخه هم شاوخوا پنځه میاشتې هم اوږده وه.
د دغو شلو کلونو په جګړو کې امریکایانو او ځینو متحدینو یې په افغانستان کې زړه‌بوږنوونکې جنګي جنایتونه ترسره کړل، افغانانو ته یې ډېر د سر، مال او نور هر ډول زیانونه واړول.

د امریکا د براون پوهنتون (د جګړې لګښتونو پروژې) د څېړنو پر بنسټ، **په دې شله کلنه جګړه کې په افغانستان کې نږدې (۱۷۶٬۰۰۰) تنه ووژل شول چې له دې شمېر څخه: (۴۶٬۳۱۹) ملکي وګړي، (۶۹٬۰۹۵) پوځیان او پولیس، او لږترلږه (۵۲٬۸۹۳) د طالبانو جنګیالي وژل شوي دي.**[12]
**د جګړې لګښتونو پروژې، د اټکل له مخې، په دغو جګړو کې مخامخ او نامخامخ وژنې کېدای شي شاوخوا تر (۳۶۰٬۰۰۰) تنو پورې وګړي له منځه تللي وي.**[13]

په افغانستان کې له طالبانو سره د امریکا پوځي ځواکونو ناڅرګنده جګړه کې **د امریکا (۲،۴۵۶) پوځیان ووژل شول، سربېره پر دې، شاوخوا (۳،۹۲۳) تنه د امریکا د دفاع وزارت اړونده قراردادیان هم وژل شوي دي او د ناټو غړو هېوادونو (۱،۱۴۴) عسکر هم وژل شوي دي.**
**د امریکایي او غربي پوځیانو د ژوبلو کسانو کره شمېر نه مالومېږي خو په لسګونه زره پوځیان ټپیان او معیوب شوي دي.**

د براون پوهنتون اټکل کړی چې په افغانستان کې تر ۲۰۲۱ز. کال پورې د امریکا **د جګړې لګښت (۲/۲۶۱) ټریلیون ډالره ؤ** چې له دې څخه ۵۳۰ میلیارد ډالر سود ورکړل شوي او ۲۹۶ میلیارده ډالر د جګړې زیانمنو عسکرو د پالنې لپاره لګول شوي دي.[14] چې د دغې شلکلنې جګړې په اوږدو کې، **یوازې د امریکا د پوځي عملیاتو لګښت نږدې (۸۲۴.۹) میلیارده ډالرو ته رسیږي.**

**د پورته زیانونو سربېره په افغانستان کې د امریکایی پوځیانو د تېښتې تر شا شاوخوا د (۷.۱۲ میلیاردو) ډالرو په ارزښت وسلې او مهمات پاتې شول چې د امریکا (لېونی مزاجه) ولسمشر ډونالډ ټرمپ هره ورځ ناري وهي وایي چې موږ ته خپلې وسلې راکړئ.**

پر افغانستان د امریکایانو او متحدینو، یرغلونه (چې پاکستان هم د افغانستان په ورانولو کې پوره ونډه لرله) نه یوازې لنډمهالي ځاني او مالي زیانونه واړول، بلکې په سیمه کې یې د اوږدې او نامالومې مودې لپاره داسې وسلوالې ډلې رامنځ ته کړې چې له امله یې د نړۍ یوه لویه سیمه بې ثباته کړه، په ځانګړې توګه پاکستان چې سل ډول شیطاني لوبې

---

[10]:"US tank entered compound of bombed Afghan hospital without permission: MSF". Daily News and Analysis India. the original
[11]: که د امریکا له پوځي یرغل وړاندې، د سيآی‌اې ډلو د داخلیدو نېټه ورسره وشمېرل شي نو پوره ۱۹کاله ۱۱ میاشتې او ۴ ورځې کیږي.
[12]:"Human and Budgetary Costs to Date of the U.S. War in Afghanistan, 2001-2022 | Figures | Costs of War".
[13]:Lamothe, Dan; Hudson, John; Constable, Pamela (1 August 2019). "US preparing to withdraw thousands of troops from Afghanistan in initial deal with Taliban".
[14]:"Human and Budgetary Costs to Date of the U.S. War in Afghanistan, 2001-2022 | Figures | Costs of War". *The Costs of War* (په انګلیسی). Retrieved 2021-09-01.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ

يې د امريکايانو، غربيانو او افغانستان پر وړاندې ولوبولې چې اوس‌مهال د خپلو بدعمليو له کبله په داسې ختو کې نښتی دی چې پای به يې د پاکستان پاشل وي. (انشاءالله)

نېټه: ۱۴۰۴/۹/۲۰ل. ل
**نور بيا**

د ښاغلي محمد انور اخڼ نوري ليکنې په دې لينک کې ولولئ.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ